مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۰/۲۱

غـزل

د دې حالاتو بدلېدو وخت راغی
نور د پښتون د ویښېدو وخت راغی

څوک د غلجو څوک درانو پسې ځي
ښکارې زموږ د ورکېدو وخت راغی

لا پښتانه په خوب ویده پراته دي
نور د پښتون د خوځېدو وخت راغی

نور مې د صبر کاسه ماته شوله
پاڅېږو نور د پاڅېدو وخت راغی

د بخت سپوږمۍ مې لا رڼا نه کوي
د مړو ډیوو د بلېدو وخت راغی

د پسرلي انتظار ښه لنډ شو
د تور خزان د ختمېدو وخت راغی

مصطفی پسرلی
19/10/2016

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ